بسم الله الرحمن الرحیم

# د مدافع وکیلانو قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

### مبني

**لومړۍ ماده :**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د یو دېرشمې مادې د حکم له مخې د مدافع وکیلانو د حقوقو او وجایبو اوپه هغوی پورې د اړوندو چارو د تنظیم په منظور وضع شوی دی .

### د مدافع وکیل د ټاکلو حق

**دوه یمه ماده :**

هر شخص کولای شي د نیول کېدو سره سم د تور د دفع یا د خپل حق د اثبات لپاره مدافع وکیل و ټاکي .

### وړیا حقوقي مساعدت

**دریمه ماده :**

د اساسي قانون په یو دېرشمه ماده کې د درج شوي حکم د تطبیق په منظور ، د عدلیې وزارت مکلف دی په جنایي قضیو کې د بیوزلو (بې بضاعته) اشخاصو لپاره ، د عدلي تعقیب په هر پړاو کې ، حقوقي مساعد وټاکي .

د حقوقي مساعدینو د فعالیت ډول ، تشکیل ، دندې ، واکونه او نورې اړوندې چارې ، د جلا مقررې په واسطه تنظیمېږي.

# قانون وکلای مدافع

## فصل اول

## احکام عمومی

### مبنی

**مادۀ اول :**

این قانون به تأسی از حکم مادۀ سی و یکم قانون اساسی افغانستان به منظور تنظیم حقوق ووجایب وکلای مدافع و امور مربوط به آنها وضع گردیده است .

### حق تعیین وکیل مدافع

**مادۀ دوم :**

هرشخص می تواند برای دفع اتهام به مجرد گرفتاری و یا برای اثبات حق خویش وکیل مدافع تعیین کند.

### مساعدت رایگان حقوقی

**مادۀ سوم :**

به منظورتطبیق حکم مندرج مادۀ سی و یکم قانون اساسی ، وزارت عدلیه مکلف است در قضایای جنایی برای اشخاص بی بضاعت در هر مرحلۀ ازتعقیب عدلی مساعد حقوقی تعیین نماید .

طرز فعالیت، تشکیل ،وظایف، صلاحیت ها و سایر امور مربوط به مساعدین حقوقی توسط مقررۀ جداگانه تنظیم می گردد .

## اداره

**څلورمه ماده :**

**(۱) په مدافع وکیلانو پورې د اړوندو چارو د تنظـیم او رهبرۍ په منظور ، د مدافع وکیلانو انجمن په خپلواکه او غیر دولتي ډول جوړېږي.**

**(۲) د مدافع وکیلانو انجمن د عمومي مجمع ، رئـیس ، اجرائیه هیئت ، او غړو لرونکی دی .**

**(۳) دمدافع وکیلانو د انجمن تشکیل، د فعالیت ډول ، د غړیتوب شرایط ، سلوک او نـورې اړونـدې چـارې د اساسنامې په واسطه تنظیمېږي.**

## اصطلاحګانې

**پنځمه ماده :**

**لاندې اصطلاحګانې پدې قانون کې لاندې معناوې افــاده کوي :**

**۱- مدافع وکیل : هغه شخص دی چې د مدافع وکیلانو پــه فهرست کې شامل وي ، د قانون د حکمونو مطابق د محکمو او نورو مراجعو په وړاندې د خپل مؤکل له حق څخه دفاع یا دعوي اقامه کوي .**

**۲- حقوقي مساعد : مدافع وکیل دی چــې پــه جنـایي موضوعګانو کې د عدلیې وزارت لخوا د بېوزلو اشخاصو لپاره ټاکل کېږي .**

**۳- بېوزله ( بې بضاعته) : هغه شخص دی چې مالي نــه توان ته په پام سره په جنايي موضوعګانو کې د مدافع وکیل د استخدام وس (قدرت) و نه لري.**

**۴- د دفاع د وکالت جوازلیک: هغه مطبوع حقوقي سند دی چــې شــکل او محتـــوي یـــې د مـــدافع وکیلانو د انجمن لخوا ټاکل کېږي.**

## اداره

**مادهٔ چهارم :**

**(۱) به منظور تنظیم و رهبری امورمربوط به وکلای مدافع انجمن وکلای مدافع به شکل مستقل و غیــر دولتــی تأسیس می گردد .**

**(۲) انجمن وکلای مدافع دارای مجمع عمومی ، رئیس ، هئیت اجرائیه و اعضاء می باشد .**

**(۳)تشکیل، طرزفعالیت،شرایط عضویت ، سلوک وسایر امور مربوط به انجمن وکلای مدافع توســط اساســنامه تنظیم می گردد.**

## اصطلاحات

**مادهٔپنجم :**

**اصطلاحات آتی دراین قانون معانی ذیل راافاده می نماید:**

**۱- وکیل مدافع: شخصی است که شامل فهرست وکلای مدافع بوده ،مطابق احکام قــانون در پیشـگاه محــاکم وسایرمراجع ازحق مؤکلی خویش دفاع یا دعوی را اقامه می نماید.**

**۲- مساعد حقوقی: وکیل مدافع است که در موضوعات جنایی از طرف وزارت عدلیه برای اشخاص بی بضــاعت تعیین می گردد.**

**۳- بی بضاعت : شخصی است که نظر به عدم توانــایی مالی در موضوعات جنایی قدرت استخدام وکیل مدافع را نداشته باشد.**

**۴- جوازنامهٔ وکالت دفاع :سند مطبوع حقوقی است که شکل ومحتوای آن از طرف انجمن وکلای مدافع تعیین می گردد .**

# دوه یم فصل

## د دفاع په وکالت باندې د اشتغال شرایط

### د اشتغال شرایط

**شپږمه ماده :**

(۱) هغه شخص د دفاع وکالت په شغل بوختېدی شي چې د لاندې شرایطو لرونکی وي :

۱- د افغانستان د تابعیت لرل.

۲- د جنایت په جرم نه محکومیت .

۳- د هېواد له دننه یا بهر څخه د حقوقو یا شرعیاتو له پوهنځیو یا له هغو پورته د فراغت د سند لرل، د عالی تحصیلاتو د وزارت له ارزیابی او تائید وروسته.

۴- د ستاژ د ټاکلې دورې تېرول او د مدافع وکیلانو د انجمن د اساسامې د حکمونو مطابق د تصدیق ترلاسه کول .

هغه شخص چې لږ تر لږه درې کاله موده یې د قضاء ، څارنوالی او عدلیې په مسلکي رشتو کې په بالفعل ډول خدمت کړی وي ، د ستاژ د ټاکلې دورې په تېرولو مکلف ندی .

(۲) د هېواد له رسمي دیني مدرسو څخه د فراغت د سند یاپې د معادل لرونکی په هغه صورت کې کولای شي د دفاع وکالت په شغل بوخت شي چې د دې مادې د (۱) فقرې په (۱، ۲ او ۴) جزء کې پر درج شوو شرایطو برسبره یې له جواز لرونکو مدافع وکیلانو څخه د یوه تر نظر لاندې لږ تر لږه درې کاله عملي کار سرته رسولی وي .

(۳) بهرنی تبعه نشی کولی په افغانستان کې دارالوکاله ولري ، خو د لاندې شرایطو په لرلو سره کولای شي د افغانستان داسلامي جمهوریت په محکمو او نورو مراجعو کې د بهرنیو حقیقي او حکمي اشخاصو په اړوندو دعواوو کې له خپل مؤکل څخه وکالت وکړي :

۱- په افغانستان کې د استوګنې د جواز لرونکی وي.

۲- له خپل متبوع هېواد څخه د وکالت د شغل د جواز لرونکی وي .

# فصل دوم

## شرایط اشتغال به وکالت دفاع

### شرایط اشتغال

**مادۀ ششم:**

(۱) شخصی به وکالت دفاع اشتغال ورزیده می تواند که واجد شرایط ذیل باشد:

۱- داشتن تابعیت افغانستان.

۲- عدم محکومیت به جرم جنایت .

۳- داشتن سند فراغت از پوهنځی های حقوق یا شرعیات و یا بالاتر از آن از داخل و یا خارج کشور بعد از ارزیابی و تایید وزارت تحصیلات عالی.

۴- سپری نمودن دورۀ معینۀ ستاژ وحصول تصدیق طبق احکام اساسنامۀ انجمن وکلای مدافع.

شخصی که حداقل مدت سه سال در رشته های مسلکی قضاء، څارنوالی وعدلیه طور بالفعل خدمت نموده باشد، مکلف به سپری نمودن دورۀ معینه ستاژ نمی باشد.

(۲) حایزسند فراغت از مدارس دینی رسمی کشور یا معادل آن در صورتی میتواند به وکالت دفاع اشتغال ورزد که علاوه بر شرایط مندرج اجزای (۱، ۲و۴) فقرۀ (۱) این ماده حد اقل سه سال کار عملی را تحت نظر یکی از وکلای مدافع دارندۀ جواز انجام داده باشد .

(۳) تبعۀ خارجی نمی تواند در افغانستان دارالوکاله داشته باشد اما تحت شرایط ذیل میتواند در محاکم و سایر مراجع جمهوری اسلامی افغانستان در دعاوی مربوط به اشخاص حقیقی و حکمی خارجی از مؤکل خویش وکالت نماید:

۱- دارای جواز اقامت در افغانستان باشد.

۲- دارای جواز شغل وکالت از کشور متبوعۀ خویش باشد.

۳- د قانون د حکمونو مطابق ، خپل مالیاتي ذمت اداء کړي.

## ددفاع وکالت به شغل دبوختېدو موانع

**اوومه ماده :**

لاندې اشخاص نشي کولای د دفاع وکالت په شغل بوخت شي :

۱- قاضیان ، څارنوالان ، د اردو ، پولیسو او ملي امنیت صاحب منصبان ، د ملکي خدمتونو مامورین او دښاروالیو کارکوونکي ، دملي شوري ، ولایتي او ولسوالۍ د شوري ګانو غړي د دندې د تصدی په وخت کې .

د حقوقو او شرعیاتو د پوهنځیو استادان ( د پوهنتون په موافقه) او حقوقی مساعدین له دې امر څخه مستثني دي.

۲- هغه اشخاص چې د جنایت د جرمونو په ارتکاب محکوم یا د محکمې په حکم له خپلې دندې څخه طرد شوي وي .

۳- هغه اشخاص چې د محکمې دحکم مطابق د دفاع وکالت په شغل له بوختېدو څخه محروم شوي وي .

## د وکالت جواز لیک

**اتمه ماده :**

(۱) د مدافع وکیلانو انجمن ، د دې قانون په شپږمه ماده کې د درج شوو شرایطو لرونکي شخص ته د دفاع وکالت جواز ورکوي.

(۲) د مدافع وکیلانو انجمن د مدافع وکیل بشپړ شهرت او د جواز د صادرېدو نېټه بالترتیب د مدافع وکیلانو په فهرست کې ثبتوي.

## د انجمن لخوا د وکیلانو معرفي

**نهمه ماده :**

د مدافع وکیلانو انجمن مکلف دی هغه شخص چې د مدافع وکیلانو په فهرست کې شاملېږي ، په لیکلې توګه اړوندو مراجعو ته معرفي کړي.

۳- ذمت مالیاتی خویش را طبق احکام قانون اداء نماید.

## موانع اشتغال به وکالت دفاع

**مادۀ هفتم :**

اشخاص آتی نمی توانند به وکالت دفاع اشتغال ورزند :

۱- قضات، څارنوالان، صاحب منصبان اردو، پولیس ، امنیت ملی ، مامورین خدمات ملکی و کارکنان شاروالی ها واعضای شورای ملی، شورای ولایتی و ولسوالی حین تصدی وظیفه.

استادان پوهنځی های حقوق وشرعیات ( به موافقۀ پوهنتون ) و مساعدین حقوقی از این امر مستثنی اند .

۲- اشخاصی که به ارتکاب جرایم جنایت محکوم یا به حکم محکمه از وظایف خویش طرد گردیده باشند .

۳- اشخاصی که طبق حکم محکمه از اشتغال به وکالت دفاع محروم گردیده باشند.

## جوازنامۀ وکالت

**مادۀ هشتم:**

(۱) انجمن وکلای مدافع به شخص واجد شرایط مندرج مادۀ ششم این قانون جواز وکالت دفاع اعطاء می نماید.

(۲) انجمن وکلای مدافع شهرت مکمل وکیل مدافع و تاریخ صدور جواز را بالترتیب در فهرست وکلای مدافع ثبت می نماید .

## معرفی وکلا ازطرف انجمن

**مادۀ نهم :**

انجمن وکلای مدافع مکلف است شخصی را که در فهرست وکلای مدافع شامل می گردد، کتباً به مراجع مربوط معرفی نماید .

# دریيم فصل

# د مدافع وکیلانو حقوق او وجایب

## د مدافع وکیل حقوق

**لسمه ماده :**

هغه شخص چې د دفاع وکالت جواز اخلي ، د لاندې حقوقو لرونکی وي :

۱- د دې قانون د حکمونو مطابق ، د محکمې او نورو مراجعو په وړاندې ، په قضايي او جزايي قضيو کې د مؤکل له حقوقو څخه دفاع .

۲- د کشف ، تحقيق او محاکمې په ټولو پړاوونو کې ګډون او له مؤکل څخه په نيابت سره د ځواب وړاندې کول .

۳- د مؤکل د کشف ، تحقيق او محاکمې له بهير او پايلو څخه يې خبرتيا .

۴- په مؤکل پورې د اړوندو جزايي او حقوقي دعوي د پاڼو مطالعه کول.

۵- په خوندي او محرمانه چاپېريال کې تر څارنې ، توقيف يا حبس لاندې مؤکل سره ملاقات او مفاهمه، مراسلات او مخابرات .

۶- حقيقي او حکمي اشخاصو ته د حقوقي مشورو ورکول.

۷-د مدافع وکيلانو د انجمن د داخلي کړنلارې او دواړو خواوو د توافق مطابق دحقوقي خدمتونو اومشورو د سر ته رسولو په بدل کې له مؤکل څخه دحق الزحمې اخستل.

۸- د دفاع وکالت د دفتر جوړول.

۹- په تقنيني سندونو کې له درج شوو نورو حقوقو څخه ګټه اخستل.

## خونديتوب (مصؤنيت)

**يوولسمه ماده :**

مدافع وکيل او دفتر يې له تېري (تعرض) څخه مصؤن دی ، هېڅ شخص د دولت په ګډون نشي کولای د هغهٔ په چارو

# فصل سوم

# حقوق و وجایب وکلای مدافع

## حقوق وکیل مدافع

**مادهٔ دهم:**

شخصی که جواز وکالت دفاع راخذ می نماید ، دارای حقوق آتی می باشد:

۱- دفاع ازحقوق مؤکل درقضایای حقوقی وجزایی به پیشگاه محکمه وسایرمراجع مطابق احکام این قانون.

۲- اشتراک درتمام مراحل کشف ، تحقیق و محاکمه و ارایهٔجواب به نیابت ازمؤکل .

۳- اطلاع از جریان کشف ، تحقیق و محاکمهٔ مؤکل ونتایج آن .

۴- مطالعهٔ اوراق دعوای جزایی و حقوقی مربوط مؤکل .

۵- ملاقات و مفاهمه ، مراسلات و مخابرات با مؤکل تحت نظارت ، توقیف یا حبس در محیط مصؤن و محرمانه.

٦- ارایهٔ مشوره های حقوقی به اشخاص حقیقی وحکمی .

۷- اخذ حق الزحمه ازمؤکل دربدل انجام خدمات ومشوره های حقوقی مطابق طرزالعمل داخلی انجمن وکلای مدافع و توافق جانبین .

۸- ایجاد دفتر وکالت دفاع.

۹- استفاده از سایرحقوق مندرج در اسناد تقنینی .

## مصؤونیت

**مادهٔ یازدهم:**

وکیل مدافع ودفتروی ازتعرض مصؤون بوده، هیچ

کې لاسوهنه وکړي یا يې د دندې د ترسره کېدو خنډ شي ، خو د قانون په حکم .

## د وکالت قرار داد

**دوولسمه ماده :**

(۱) د مدافع وکیل او مؤکل حقوق او وجایب د اړخونو ترمنځ د لیکلي مقاولې پربنسټ د اړوندې اساسنامې مطابق ټاکل کېږي او تثبیتېږي .

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوې مقاوله په دریو نقلونو کې ترتیبېږي چې یو نقل يې مدافع وکیل ، یو نقل يې مؤکل او بل نقل يې اړوندې محکمې ته سپارل کېږي.

## د مدافع وکیل وجایب

**دیارلسمه ماده :**

مدافع وکیل د لاندې وجیبو لرونکی دی :

۱- د مؤکل د اسرارو ساتل .

۲- په ربښتینولۍ او ایمانداری او د اشخاصوحیثیت ته په در ناوي سره د وکالت د چارو اجراء کول.

۳- د محکمو او نورو ادارو د نظم په پام کې نیول.

۴- په قضایي غونډو کې گډون کول.

۵- مقابل لوري ته له هر ډول حقوقي مساعدت څخه ډډه کول.

٦- د مؤکل د پاڼو او سندونو ساتل او د مطلب له حل کېدو وروسته د هغو مستردول .

۷- دسندونو او پاڼو د اخستلو او مستردولو په وړاندې د لیکلي سند ورکول .

۸- د نورو وکیلانو پر ضد له ناوړو تبلیغاتو څخه ډډه کول .

۹- له هغو عملونو څخه مخنیوی چې بې موجبه دمحکمې د حکم او د تحقیق د بهیر د ځنډېدو سبب شي.

۱۰- نورو اشخاصو ته د دارالوکالې د نوم او عنوان له په عاریت ورکولو څخه ډډه کول .

شخص به شمول دولت نمی تواند درامورآن مداخله یا مانع انجام وظیفه اش گردد ، مگربه حکم قانون.

## قرارداد وکالت

**مادۀ دوازدهم:**

(۱)حقوق ووجایب وکیل مدافع ومؤکل به اساس مقاولۀ تحریری بین طرفین مطابق اساسنامۀ مربوط تعیین وتثبیت می گردد.

(۲) مقاولۀ مندرج فقرۀ (۱) این ماده درسه نقل ترتیب که یک نقل آن به وکیل مدافع ، یک نقل آن به مؤکل ونقل دیگرآن به محکمۀ مربوط سپرده می شود.

## وجایب وکیل مدافع

**مادۀ سیزدهم :**

وکیل مدافع دارای وجایب ذیل می باشد:

۱- حفظ اسرار مؤکل .

۲- اجرای اموروکالت با صداقت وایمان داری و احترام به حیثیت اشخاص .

۳- رعایت نظم محاکم وسایر ادارات .

۴- اشتراک در جلسات قضایی.

۵- خودداری ازهرنوع مساعدت حقوقی به جانب مقابل.

٦- حفظ اوراق واسناد مؤکل واسترداد آن بعد ازحل مطلب.

۷- دادن سند کتبی دربرابر اخذ واسترداداسناد و اوراق .

۸- خودداری ازتبلیغات سوء برعلیه سایروکلاء.

۹- جلوگیری ازاعمالی که سبب معطل شدن بی موجب حکم محکمه وجریان تحقیق گردد.

۱۰- اجتناب ازعاریت دادن نام وعنوان دارالوکاله به سایر اشخاص .

۱۱- د دارالوکالې د آدرس د بدلېدو په هکله اړونـــدو مراجعو ته خبر ورکول .

۱۲- د جواز نوي کول .

۱۳- د قانون د حکمونو مطابق پر عایداتو باندې د مالیاتو ورکول .

۱۴- د مدافع وکیلانو انجمن ته د کلنیو عایـــداتو خبــر ورکول .

۱۵- د عدلیې وزارت په تأیید په یوۀ کال کې په وړیا توګه لږترلږۀ له دریو جنایي قضیو څخه دفاع .

۱٦- د مدافع وکیلانو د انجمن په اساسنامه کـــې درج د سلوک د قواعدو په پام کې نیول .

۱۷- د مدافع وکیلانو د انجمن د اساسنامې مطابق د نورو دندو سر ته رسول .

## د دفاع وکالت د دفتر د جوړولو شرایط

**څوارلسمه ماده :**

مدافع وکیل مکلف دی د دفـــاع د وکالـــت د شـــغل د پرمخبیولو په منظور ټاکلی دفتر جوړ او لاندې مراتب په پام کې ونیسي:

۱- عدلیې وزارت او د مدافع وکیلانـــو انجمـــن تـــه د دارالوکالې د پتې ورکول .

۲- د اداري سندونو د ثبت د دفتر ترتیبول .

۳- د مؤکلینو د سندونو د ثبت د دفتر ترتیبول .

۴- په ټاکلي دفتر کې د عوایدو ثبتول .

۵- د وارده مراسلو او پیغامونو ثبتول .

## لوحه او مهر

**پنځلسمه ماده :**

(۱) د دفاع وکالت دفتر د لوحې لرونکی وي چې پکې په جوازلیک کې درج ، ثبت شوی عنوان لیکلی کېږي .

(۲) د دفاع وکالت دفتر د ځانګړي مهر لرونکی وي چې

۱۱- اطلاع به مراجع ذیـــربط درمـــورد تغییـــر آدرس دارالوکاله.

۱۲- تجدید جواز.

۱۳- پرداخت مالیات برعایدات طبق احکام قانون.

۱۴- اطلاع دهی از عایدات سالیانه به انجمن وکـــلای مدافع.

۱۵- حد اقـل دفـــاع از ســـه قضـــیۀ جنـــایی طـــور رایگان در یکسال به تایید وزارت عدلیه .

۱٦- رعایت قواعد سلوک منـــدرج اساســـنامۀ انجمـــن وکلای مدافع .

۱۷- انجام سایر وظایف طبق اساسنامۀ انجمن وکـــلای مدافع .

## شرایط ایجاد دفتر وکالت دفاع

**مادۀ چهاردهم:**

وکیل مدافع مکلف است به منظور پیشبرد شغل وکالـــت دفـــاع دفتـــر معـــین را ایجـــاد و مراتـــب ذیل را رعایت نماید :

۱- ارایۀ آدرس دارالوکاله به وزارت عدلیـــه و انجمـــن وکلای مدافع .

۲- ترتیب دفتر ثبت اسناد اداری .

۳-ترتیب دفترثبت اسناد مؤکلین.

۴- ثبت عواید دردفترمعین.

۵- ثبت مراسلات و پیام های وارده .

## لوحه ومهر

**مادۀ پانزدهم:**

(۱)دفتر وکالت دفاع دارای لوحۀ یي می باشد که در آن

وکيلانو دانجمن له تأييد وروسته د امتياز د خاوند په لگښت برابرېږي .

## سوگند

**شپاړسمه ماده :**

مدافع وکيل مکلف دی د جواز ليک له اخستلو وروسته ، لاندې سوگند ، د مدافع وکيلانو د انجمن داجرائيه هيئت په حضور کې اداء کړي :

بسم الله الرحمن الرحيم

(د خدای (ج) په نوم سوگند يا دوم چې د دفاع وکالت شغل په امانت او رېښتينولۍ سره اداء او اسرار يې وساتم ، د اسلام د سپېڅلي دين ، اساسي قانون او د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د ټولو نافذه تقنيني سندونو حکمونه په پام کې نيسم او درۀ ناوی يې کوم او خپل مؤکل ته خيانت نه کوم .)

## د نوي مدافع وکيل ټاکل

**اوولسمه ماده:**

(۱) که چېرې مدافع وکيل له مؤکل سره د مقاولې له عقدولو وروسته د مؤجه عذر له مخې ، د خپلې ژمنې په ترسره کولو و نه توانېږي ، کولای شي د مؤکل په ليکلې موافقه ، بل مدافع وکيل هغۀ ته معرفي کړي .

(۲) مؤکل کولای شي د کشف ، تحقيق يا محاکمې په هر پړاو کې خپل مدافع وکيل عزل کړي .

(۳) د دې مادې د ( ۱ او ۲) فقرې په حالاتو کې وکيل او مؤکل مکلف دي له موضوع څخه اړوندو مراجعو ته خبر ورکړي.

عنوان ثبت شدۀ مندرج جوازنامه تحرير می گردد.

(۲)دفتر وکالت دفاع دارای مهر مخصوص بوده که بعد از تاييد انجمن وکلای مدافع به مصرف صاحب امتياز تهيه می گردد.

## سوگند

**مادۀ شانزدهم:**

وکيل مدافع مکلف است بعد از اخذ جوازنامه ،سوگند ذيل را درحضورهيئت اجرائيۀ انجمن وکلای مدافع اداء نمايد :

بسم الله الرحمن الرحيم

( به نام خداوند (ج) سوگند ياد می کنم که شغل وکالت دفاع را با امانت وصداقت اداء و اسرار آن راحفظ نمايم ، احکام دين مقدس اسلام ، قانون اساسی وتمام اسناد تقنينی نافذۀ دولت جمهوری اسلامی افغانستان را رعايت واحترام نموده وبه مؤکل خويش خيانت نمی نمايم .)

## تعيين وکيل مدافع جديد

**مادۀ هفدهم:**

(۱) هرگاه وکيل مدافع بعد ازعقد مقاوله با مؤکل بنابرعذرمؤجه قادر به ايفای تعهد خويش نگردد ، می تواند به موافقۀ کتبی مؤکل ، وکيل مدافع ديگررا به وی معرفی نمايد .

(۲)مؤکل می تواند در هر مرحلۀ يي از کشف ، تحقيق يا محاکمه وکيل مدافع خويش را عزل نمايد .

(۳) درحالات مندرج فقرات (۱و۲) اين ماده وکيل ومؤکل مکلف اند ازموضوع به مراجع ذيربط اطلاع دهند.

## نه استعفي او له نه حضور څخه خبرول

**اتلسمه ماده:**

(۱) مدافع وکیل نشي کولای د قضایي غونډې له جوړېدو څخه یوه اوونۍ د مخه استعفي وکړي.

(۲) مدافع وکیل مکلف دی د مؤجه عذر د درلودلو په صورت کې، د قضایي غونډې له پیل کېدو لږ تر لږه یوه اوونۍ دمخه له خپل نه حضور څخه اړوندو مراجعو ته خبر ورکړي.

## په جزایي محکمه کې د حضور اولویت

**نولسمه ماده:**

که چېرې مدافع وکیل په عین وخت کې په دوو یا څو غونډو کې په حضور مکلف وي، د هغهٔ حضور په جزایي محکمه کې لومړی توب لري او په هغه صورت کې چې د توکیل حق و لري، کولای شي د غیر جزایي موضوع د تعقیب لپاره بل وکیل غوره کړي.پرته لدې، مکلف دی د یوې اوونۍ په ترڅ کې اړوندې محکمې ته یادښت واستوي.

## د مدافع وکیل جامې

**شلمه ماده:**

مدافع وکیل په قضائي غونډه کې، د ځانګړو جامو په اغوستلو مکلف دی چې نمونه یې د مدافع وکیلانو د انجمن لخوا تجویزیږي.

## د امتیازونو د لېږدولو موانع

**یوویشتمه ماده:**

مدافع وکیل نشي کولای د صورت دعوي او د هغې د دفع د ترتیب حق، محضر لیکنه، په محکمو کې د مؤکل له حقوقو څخه دفاع، د دارالوکالې د دفتر مهر او د خپل شغل نور مسلکي امتیازونه په مؤقته یا دایمي توګه بل

## عدم استعفی و اطلاع از عدم حضور

**مادهٔ هجدهم:**

(۱) وکیل مدافع نمی تواند یک هفته قبل از تدویر جلسهٔ قضایی از وکالت استعفی نماید .

(۲) وکیل مدافع مکلف است درصورت داشتن عذر مؤجه، حد اقل یک هفته قبل از شروع جلسهٔ قضایی ازعدم حضورخویش به مراجع ذیربط اطلاع دهد.

## اولویت حضوردرمحکمهٔ جزایی

**مادهٔ نزدهم :**

هر گاه وکیل مدافع در عین زمان به حضور در دو یا چند جلسهٔ قضایی مکلف باشد ، حضور او در محکمهٔ جزایی مقدم بوده و در صورتی که حق توکیل را داشته باشد ،می تواند برای تعقیب موضوع غیر جزائی وکیل دیگری را انتخاب نماید . در غیر آن ، مکلف است در خلال یک هفته به محکمهٔ مربوط یادداشت ارسال نماید .

## لباس وکیل مدافع

**مادهٔ بیستم:**

وکیل مدافع درجلسهٔ قضایی، مکلف به پوشیدن لباس مخصوص است که نمونهٔ آن ازطرف انجمن وکلای مدافع تجویز می گردد .

## موانع انتقال امتیازات

**مادهٔبیست ویکم:**

وکیل مدافع نمی تواند حق ترتیب صورت دعوی و دفع آن، محضر نویسی، دفاع در محاکم ازحقوق مؤکل،

شخص ته ولېږدوي. ددارالوکالې داداري چارو اجراء لدې حکم څخه مستثنیٰ ده.

## د شهادت موانع

**دوه ویشتمه ماده:**

(۱)مدافع وکیل له عزل، استعفی او یا دوکالت له پایته رسېدو وروسته نشي کولای په همدې موضوع کې د مقابل لوري وکیل یا شاهد شي، یا هغهٔ ته سلا ورکړي.

(۲) مدافع وکیل په هغه قضیه کې چې دفاع یې کوي یا یې د هغې په هکله لیکلې مشوره ورکړې وي، شاهد کېدای نشي.

## په ځینو محکمو کې د وکالت د حق نلرل

**درویشتمه ماده:**

مدافع وکیل نشي کولای د هغې محکمې په وړاندې چې خپله یا (مېرمن یا خاوند) یې د هغې له قاضیانو څخه له یوهٔ سره تر درېیمې درجې پورې نسبي یا سببي قرابت ولري، وکالت وکړي.

## په ځینو قضیو کې د وکالت حق نلرل

**څلېریشتمه ماده:**

مدافع وکیل نشي کولای د هغې قضیې چې د مخه یې د قاضي، څارنوال ، مستنطق،حکم یا اهل خبره په توګه څېړلې وي،وکالت وکړي.

## له عوایدو څخه خبر ورکول

**پنځه ویشتمه ماده:**

د مدافع وکیلانو انجمن مکلف دی د قانون د حکمونو مطابق د خپلو عوایدو له تر لاسه کولو څخه په لیکلې توګه د مالیې وزارت ته خبر ورکړي.

مهرودفتر دارالوکاله و سایر امتیازات مسلکی شغل خویش را به شخص دیگر طور مؤقت یا دایمی انتقال بدهد اجرای امور اداری دارالوکاله از این حکم مستثنی است .

## موانع شهادت

**مادهٔ بیست و دوم:**

(۱) وکیل مدافع بعد از عزل، استعفی و یا ختم وکالت نمی تواند در همین موضوع وکیل یا شاهد جانب مقابل گردد ، یابوی مشوره دهد .

(۲) وکیل مدافع درقضیه که دفاع مینماید یا درمورد آن مشورهٔ کتبی ارایهٔ نموده باشد،شاهد شده نمی تواند.

## نداشتن حق وکالت دربعضی محاکم

**مادهٔ بیست و سوم:**

وکیل مدافع نمی تواند درپیشگاه محکمیی که خود یا همسر وی با یکی ازقضات آن قرابت نسبی یا سببی تا درجهٔ سوم داشته باشد،وکالت نماید .

## نداشتن حق وکالت دربعضی قضایا

**مادهٔ بیست و چهارم:**

وکیل مدافع نمی تواند قضیی راکه قبلاًبه حیث قاضی ، خارنوال ، مستنطق، حکم یا اهل خبره بررسی نموده باشد،وکالت نماید.

## اطلاع از عواید

**مادهٔ بیست و پنجم:**

انجمن وکلای مدافع مکلف است طبق احکام قانون ازحصول عواید خویش کتباً به وزارت مالیه اطلاع دهد.

## د دفترونو او پاڼو ترتیبول

**شپږویشتمه ماده:**

مدافع وکیل مکلف دی د وکالت د چـارو د اړتیـا وړ دفترونه او پاڼې، د هغې نمونې مطابق چې د مدافع وکیلانو د انجمن لخوا تجویزیږي ترتیب کړي.

## ترتیب دفاتر واوراق

**مادهٔ بیست و ششم :**

وکیل مدافع مکلف است دفاترواوراق مورد ضرورت امور وکالت را ،مطابق نمونه یی که ازطرف انجمـن وکـلای مدافع تجویزمی گردد، ترتیب نماید .

# څلورم فصل

## تأديبي حکمونه

### د مدافع وکيل پرضد د رسېدلو شکايتونو څېړل

**اووه ويشتمه ماده:**

(۱) د دندې د سرته رسولو په نسبت له مدافع وکيل څخه د مؤکل يا اړوندو مراجعو هر ډول شکايت، د مدافع وکيلانو انجمن ته وړاندې کېږي.

(۲) که چېرې قضيه د تأديب وړ وګڼل شي، د مدافع وکيلانو له احوالو سره سم له لاندې تأديباتو څخه په يوې پې تصميم نيسي:

۱- توصيه.

۲- اخطار.

۳-تر يوهٔ کاله پورې د مدافع وکيل د فعاليت منع او د هغه د دفتر تړل.

۴- تر پنځو کلونو پورې د مدافع وکيلانو له فهرست څخه د وکيل حذفول.

(۳) تأديبي حکم وکيل ته په ليکلې توګه ابلاغېږي.

(۴) په هغهٔ صورت کې چې قضيه جنايي تشخيص شي ، د مدافع وکيلانو انجمن کولای شي هغه د عدلي تعقيب لپاره څارنوالۍ ته ارجاع کړي.

### له وکيل څخه د زيان د جبران غوښتنه

**اته ويشتمه ماده:**

(۱) مدافع وکيل د قانوني دندو له حدودو څخه د تېرې، په چارو کې د سهل انګارۍ او د نورو هغو اعمالو چې مؤکل ته د زيان سبب شي د ارتکاب په صورت کې، مسؤول پېژندل کېږي.

(۲) که چېرې مؤکل د مدافع وکيل د قصدي عمل له امله ، زيانمن شي، کولای شي د محکمې

# فصل چهارم

## احکام تأديبی

### بررسی شکايات وارده عليه وکيل مدافع

**مادهٔ بيست و هفتم:**

(۱)هرگونه شکايت مؤکل يا مراجع مربوط ازوکيل مدافع نسبت به اجرای وظيفه به انجمن وکلای مدافع ارائهٔ مى گردد.

(۲)هرگاه قضيه قابل تأديب تشخيص گردد،انجمن وکلای مدافع حسب احوال به يکی از تأديبات آتی تصميم اتخاذ می نمايد :

۱ – توصيه .

۲- اخطار.

۳- منع فعاليت وکيل مدافع و تعطيل دفتر آن الی يکسال.

۴- حذف وکيل مدافع از فهرست وکلای مدافع تا پنج سال .

(۳) حکم تأديبی برای وکيل به صورت کتبی ابلاغ مى گردد.

(۴) درصورتی که قضيه جنايی تشخيص گردد ، انجمن وکلای مدافع می تواند آن راجهت تعقيب عدلی به څارنوالی ارجاع نمايد .

### مطالبهٔ جبران خساره ازوکيل

**مادهٔ بيست و هشتم:**

(۱) وکيل مدافع در صورت تجاوز از حدود وظايف قانونی ، سهل انگاری در امور وارتکاب ساير اعمالی که موجب ضربه مؤکل گردد، مسؤول شناخته می شود.

(۲) هرگاه مؤکل بنابر عمل قصدی وکيل مدافع ،

له لارې د زیان د جبران غوښتنه وکړي.

## د بل شخص په واسطه د وکیل له نوم او امتیاز څخه د ګټې اخستلو ممنوعیت

**نهه ویشتمه ماده:**

که چېرې بل شخص د مدافع وکیل له نوم او امتیاز څخه ګټه واخلي، د قانون د حکمونو مطابق تر عـــدلي تعقیـــب لاندې نیول کېږي.

متضررگردد ، می تواند از طریق محکمه مطالبـــۀ جبـــران خساره نماید .

## ممنوعیت استفاده از نام و امتیاز وکیل توسط شخص دیگر

**مادۀ بیست ونهم:**

هرگاه شخص دیگری ازنام وامتیاز وکیل مدافع اســتفاده نماید ، طبق احکام قانون مورد تعقیب عدلی قرارمی گیرد.

# پنځم فصل

## متفرقه حکمونه

### د مدافع وکیلانو د انجمن د تمویل سرچینې

**دېرشمه ماده:**

د مدافع وکیلانو انجمن له لاندې سرچینو څخه تمویلېږي:

۱- د غړو حق العضویت.

۲- د دفاع وکالت له جواز څخه حق الامتیاز.

۳- د اشخاصو او خیریه مراجعو مرستې.

۴- د خپرونو پلورل.

۵-د دولت مالي مرسته(مساعدت).

٦- د څېړنیزو او ښوونیزو پروګرامونو حق الاجرت.

۷- د نړیوالو مؤسسو مرسته.

۸- منقوله او غیر منقوله شتمني.

### له شتمنۍ څخه ګټه اخستنه

**یو دېرشمه ماده:**

د مدافع وکیلانو د انجمن له شتمنۍ څخه یوازې د هغې د موخو د پلي کولو لپاره ګټه اخستل کېږي.

### د منقولو او غیر منقولو مالونو ثبتول

**دوه دېرشمه ماده:**

(۱) د مدافع وکیلانو په انجمن پورې اړوند منقول او غیر منقول مالونه ثبتېږي، کاپي یې د مالیې وزارت ته استول کېږي.

(۲) د مدافع وکیلانو د انجمن مؤسسین، د عمومي مجمع غړي، د اجرائیه هیئت غړي او نور کارکونکي نشي کولای د انجمن منقول او غیر منقول مالونه په خپل یا د خپلوانو په نوم و پېري او یا یې ثبت کړي .

# فصل پنجم

## احکام متفرقه

### منابع تمویل انجمن وکلای مدافع

**مادۀ سی ام :**

انجمن وکلای مدافع ازمنابع ذیل تمویل می گردد:

۱- حق العضویت اعضا .

۲- حق الامتیاز ازجوازوکالت دفاع.

۳-کمکهای اشخاص ومراجع خیریه.

۴- فروش نشرات.

۵- مساعدت مالی دولت.

٦- حق الاجرت برنامه های تحقیقاتی و آموزشی .

۷-مساعدت مؤسسات بین المللی.

۸- دارایی منقول وغیر منقول .

### استفاده ازدارائی

**مادۀ سی ویکم:**

دارایی انجمن وکلای مدافع صرف در جهت تحقق اهداف آن استفاده می شود .

### ثبت اموال منقول و غیر منقول

**مادۀ سی و دوم:**

(۱) اموال منقول و غیر منقول مربوط به انجمن وکلای مدافع ثبت گردیده ، کاپی آن به وزارت مالیه ارسال می گردد .

(۲) مؤسسین ، اعضای مجمع عمومی ، اعضای هیئت اجرائیه وسایر کارکنان انجمن وکلای مدافع نمی توانند اموال منقول و غیرمنقول انجمن را به نام خود ویا اقارب خویش خریداری ویا ثبت نمایند .

## د مدافع وکیلانو د انجمن مکلفیتونه

**دري دېرشمه ماده :**

(۱) د مدافع وکیلانو انجمن مکلف دی چې د وکیل د مړینې په صورت کې بې له ځنده د مؤکل اړوندې پاڼې او اسناد د هیئت تر نظرلاندې مؤکل ته تسلیم او سند واخلي.

(۲) په هغه صورت کې چې د مدافع وکیلانو څخه یو تن د وکالت له دندې څخه لرې شي، موضوع د مدافع وکیلانو د انجمن له خوا عدلي او قضائي ارگانونو ته خبر ورکول کېږي.

## د وکالت د جواز له اخستلو پرته د وکالت د حق لرل

**څلور دېرشمه ماده:**

(۱) په هغو مواردو کې چې د خپلوانو (پلار ، نیکه تر دریېمې درجې پورې ، صلبي اولاد، مورتر دریېمې درجې پورې ، ورور، وراره، خور، خوریې، مېره، مېرمنې، عم او عمه، خاله، ماما او تر دوه یمې درجې پورې د هغوی د صلبي اولادونو، او خسر، اوښې او خواښې) یا شریکانوله حقوقو څخه د فاع مطرح وي، پدې صورت کې وکیل شخص د دفاع د وکالت د جواز په اخستلو مکلف ندی.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی وکیل د شرعي وثیقې پر بنسټ ټاکل کېږي.

## د شرعي وثیقې په واسطه د مدافع وکیل ټاکل

**پنځه دېرشمه ماده:**

په حقوقي قضیو او د جزایي قضیو په حق‌العبدي برخه کې مدافع وکیل دشرعي و ثیقې په واسطه ټاکل کېږي.

په جزایي قضیو کې مظنون(شکمن) اشخاص، تورن یا د طفل قانوني ممثل کولای شي مدافع وکیل د شرعي وثیقې یا ددې قانون د منضمه فورم په ذریعه د پولیسو ، څارنوالی او محکمو په دفترونو کې و ټاکي.

## مکلفیت های انجمن وکلای مدافع

**مادهٔ سی و سوم:**

(۱) انجمن وکلای مدافع مکلف است در صورت فوت وکیل مدافع بدون تأخیر اوراق و اسناد مربوط به مؤکل را تحت نظر هیئتی به مؤکل تسلیم و سند اخذ نماید .

(۲) در صورتی که یک تن از وکلای مدافع از وظیفهٔ وکالت سبک دوش گردد موضوع توسط انجمن وکلای مدافع به ارگانهای عدلی و قضایی اطلاع داده می شود.

## داشتن حق وکالت بدون اخذ جواز وکالت

**مادهٔ سی چهارم :**

(۱) در مواردی که دفاع از حقوق خویشاوندان (پدر، پدرکلان تا درجه سوم ، اولاد صلبی ، مادر تا درجه سوم ، برادر ، برادرزاده ، خواهر، خواهرزاده، زوج ، زوجه ، عم و عمه ، خاله ، ماما و اولادهای صلبی شان تا درجهٔ دوم و خسر، خسر بره و خشو) یا شرکا مطرح باشد،دراین صورت شخص وکیل مکلف به اخذ جواز وکالت دفاع نمی باشد .

(۲) وکیل مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به اساس وثیقهٔ شرعی تعیین می گردد.

## تعیین وکیل مدافع توسط وثیقهٔ شرعی

**مادهٔ سی و پنجم :**

وکیل مدافع درقضایای حقوقی وبخش حق العبدی قضایای جزایی توسط وثیقهٔ شرعی تعیین میگردد.

درقضایای جزایی ، اشخاص مظنون ، متهم یا ممثل قانونی طفل میتوانند وکیل مدافع را ذریعهٔ وثیقهٔ شرعی یا فورم منضمهٔ این قانون در دفاتر پولیس، څارنوالی و محاکم تعیین نمایند .

## له حق الاجرت څخه د راپیدا شوې دعوې د اورېدو موده

**شپږ دېرشمه ماده:**

د مؤکل او وکیل تر منځ د حق الاجرت له اختلاف څخه را پیدا شوې دعوې ، د وکالت له پایته رسېدو وروسته پس له یوهٔ کاله د اورېدو وړنده، مؤجه عذر لدې حکم څخه مستثنيٰ دی.

## د امنیت تأمین

**اووه دېرشمه ماده:**

د کورنیو چارو وزارت او نور اړوند امنیتي مراجع مکلف دي د مدافع وکیلانو د انجمن د دفترونو د امنیت د تأمینولو او ساتنې لپاره لازم تدبیرونه و نیسي.

## د حقوقي شخصیت تثبیتېدل

**اته دېرشمه ماده:**

د مدافع وکیلانو د انجمن حقوقي شخصیت هغه وخت تثبیتېږي چې اساسنامه یې له قانون سره سم ترتیب، د عمومي مجمع له خوا تصویب ، خپره او د عدلیې په وزارت کې ثبت شي.

## د جواز لیک نوي کېدل

**نهه دېرشمه ماده:**

هغه اشخاص چې ددې قانون له نافذېدو دمخه د دفاع د وکالت د شغل د جواز لیک لرونکي دي، د هغوی د فعالیت جواز ددې قانون او د مدافع وکیلانو د انجمن د اساسنامې د حکمونو له په پام کې نیولو سره، نوی کېږي.

## میعاد سمع دعوی ناشی ازحق الاجرت

**مادهٔ سی و ششم :**

دعوای ناشی ازاختلاف حق الاجرت بین مؤکل و وکیل مدافع بعد از ختم وکالت پس از گذشت یک سال قابل سمع نمی باشد ، عذر مؤجه از این حکم مستثنی است .

## تأمین امنیت

**مادهٔ سی و هفتم :**

وزارت امورداخله وسایرمراجع ذیربط امنیتی مکلف اند جهت تأمین امنیت وحفاظت دفاتر انجمن وکلای مدافع تدابیر لازم را اتخاذ نمایند .

## تثبیت شخصیت حقوقی

**مادهٔ سی و هشتم:**

شخصیت حقوقی انجمن وکلای مدافع زمانی تثبیت می گردد که اساسنامهٔ آن مطابق قانون ترتیب ، از طرف مجمع عمومی تصویب ، نشر و در وزارت عدلیه ثبت شود.

## تجدید جواز نامه

**مادهٔ سی و نهم:**

اشخاصی که قبل از انفاذ این قانون حایز جوازنامهٔ شغل وکالت دفاع بوده اند، جواز فعالیت ایشان با رعایت احکام این قانون و اساسنامهٔ انجمن وکلای مدافع تجدید می گردد.

## د وکالت د امتیاز د لېږد منع

**څلوېښتمه ماده:**

د دفاع وکالت امتیاز،د حقوقي اهلیت په زایلېدو،د شغل په پرېښودلو (ترک) یا سلب سره بل شخص ته د لېږدېدو وړ ندی.

## د مدافع وکیلانو د انجمن متقابله مرسته

**یو څلوېښتمه ماده:**

د مدافع وکیلانو انجمن کولای شي په بهر کې له مماثلو انجمنونو سره متقابلې مرستې و لري.

## د خپرونې، نښان او مهر لرل

**دوه څلوېښتمه ماده:**

د مدافع وکیلانو انجمن د خپرونې، نښان او مخصوص مهرلرونکی دی.

## د محکمې له حکم پرته د انجمن نه منحلیدل

**دري څلوېښتمه ماده :**

د مدافع وکیلانو انجمن د واکمنې محکمې له حکم څخه پرته نشي منحل کېدای.

## د انفاذ نېټه

**څلور څلوېښتمه ماده:**

دغه قانون په رسمي جریده کې له خپرېدو درې میاشتې وروسته نافذ او په نافذېدو سره یې د ۱۴۲۰ هـ.ق کال په (۷۸٦) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د مدافع وکیلانو قانون له ضمیمو او تعدیلونو سره یې لغوه ګڼل کېږي

## منع انتقال امتیاز وکالت

**مادۀ چهلم :**

امتیاز وکالت دفاع با زایل شدن اهلیت حقوقی ، ترک شغل یا سلب آن به شخص دیگری قابل انتقال نمی باشد .

## همکاری متقابل انجمن وکلای مدافع

**مادۀ چهل و یکم:**

انجمن وکلای مدافع می تواند با انجمن های مماثل درخارج همکاری متقابل داشته باشد.

## داشتن نشریه ، نشان ومهر

**مادۀ چهل و دوم :**

انجمن وکلای مدافع دارای نشریه ، نشان ومهر مخصوص می باشد.

## عدم انحلال انجمن بدون حکم محکمۀ ذیصلاح

**مادۀ چهل و سوم :**

انجمن وکلای مدافع بدون حکم محکمۀ ذیصلاح منحل شده نمی تواند.

## تاریخ انفاذ

**مادۀ چهل و چهارم :**

این قانون سه ماه بعد ازنشر در جریدۀ رسمی نافذ و با انفاذ آن قانون وکلای مدافع منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۷۸٦) سال ۱۴۲۰ هـ. ق با ضمایم وتعدیلات آن ملغی شمرده میشود.

# جمهوری اسلامی افغانستان

# فورم تعین وکیل مدافع در قضایای جزائی

**شهرت موکل**
**(مظنون و متهم یا ممثل قانونی طفل مظنون و متهم )**

| اسم | ولد | ولدیت | جنسیت | سکونت اصلی | سکونت فعلی | نمبر تذکره | نمبر تیلفون |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | |

اینجانب (                ) که شهرتم در فوق ذکر است ، در حالیکه دارای اهلیت شرعی قانونی خود بوده و میباشیم ، محترم / محترمه (                ) را بحیث وکیل خود در مورد دفع اتهام وارده مبنی بر (          ) الی (          ) در (          ) تعیین نمودم ، تا مطابق احکام قانون از حقوق من (          ) در بدل مبلغ (          ) افغانی یا بدون عوض دفاع نماید .

شصت و امضاء موکل (                )
تاریخ / / ۱۳

**شهرت وکیل**

| اسم | ولد | ولدیت | جنسیت | سکونت اصلی | سکونت فعلی | نمبر تذکره | نمبر تیلفون | نمبرجواز |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | |

اینجانب (                ) که شهرتم در فوق ذکر است ، در حالیکه دارای اهلیت شرعی قانونی خود بوده و میباشم، وکالت محترم / محترمه (                ) را در بدل مبلغ (          ) افغانی یا بدون عوض (طور رایگان) قبول نموده، تعهد می نمایم که الی طی مراحل (          ) با کمال صداقت ، امانت داری و رعایت احکام قانون از حقوق موکل خود دفاع نمایم .

تایید و تصدیق مراجع مربوط:
پولیس (          ) خارنوالی (          )
محکمه (          )

شصت و امضاء وکیل
(                )
تاریخ / / ۱۳۸

# د مدافع وکیلانو دخپلواکې ټولنې اساسنامه

# په ۷ / ۸ / ۱۳۸۷ نیټه کې د مجمع عمومي مصوبه

# ساسنامه انجمن مستقل وکلای مدافع

# مصوب مؤرخه ۷ / ۵ / ۱۳۸۷ مجمع عمومي

# لومړی فصل

## عمومي حکمونه

### بنسټ

لومړۍ ماده:

دغه اساسنامه ، دمدافع وکیلانو قانون د څلورمې مادې او د ټولنیزو سازمانونو قانون د څلورمې مادې د حکم له مخې ، دمدافع وکیلانو د خپلواکې ټولنې د جوړښت،دندو،دفعالیت ډول، دغونډو جوړېدو، دغړو حقوقو او وجیبو او دهغو دسلوک په څرګندولو پورې د اړوندو چارو د تنظیم په موخه، وضع شوېده.

### موخې

دویمه ماده:

د مدافع وکیلانو خپلواکه ټولنه، دلاندې موخو د پلې کېدو لپاره فعالیت کوي:

۱- د اسلام د مقدس دین د احکامو تطبیق د قانون او عدالت له حاکمیت څخه ملاتړ.

۲- د بشر دحقوقوڅخه دفاع او دهر ډول جنسي، توکمیز، ژبني، رنګ، ټولنیز او قومي منشا، د شتمني میزان اومعلولیت او هغو د بېلګو د تبعیض پر ضد مبارزه.

۳- په حقوقي او عدلي مراجعوکې داتباعو حقوقو او منل شویو ازادیو په پام کې نیول.

۴- د محکمو او د کشف او تحقیق په مراجعو کې د مناسبواو معیاري خدمتونو له لارې عدالت ته دلاس رسي د زمینې چمتو کول.

۵- هغو کسانوته چې د مدافع وکیلانو په قانون او دغه اساسنامه کې لیکل شوي شرطونه یې بشپړ کړي وي، د وکالت جواز ورکول .

۶- د ملي او نړیوالو معیارونو له په پام کې نیولو سره د

# فصل اول

## احکام عمومی

### مبنی

مادۀ اول :

این اساسنامه به تأسی از حکم مادۀ چهارم قانون وکلای مدافع ومادۀ چهارم قانون سازمانهای اجتماعی بمنظور تنظیم امور مربوط به تشکیل ،وظایف ، طرز فعالیت، تدویرجلسات ، حقوق ووجایب اعضای انجمن مستقل وکلای مدافع و توضیح سلوک آنها ، وضع گردیده است.

### اهداف

مادۀ دوم :

انجمن مستقل وکلای مدافع به منظور تحقق اهداف ذیل فعالیت می نماید:

۱ــ حمایت از تطبیق احکام دین مقدس اسلام وحاکمیت قانون و عدالت.

۲- دفاع از حقوق بشر و مبارزه علیه هر نوع تبعیض و امتیاز جنسی، نژادی، زبانی،رنگ، منشاء اجتماعی و قومی ،میزان دارایی ،معلولیت و امثال آن.

۳- رعایت حقوق و آزادی های شناخته شدۀ اتباع در مراجع حقوقی وعدلی.

۴- مساعد ساختن زمینۀ دسترسی به عدالت در محاکم و مراجع کشف و تحقیق از طریق عرضۀ خدمات حقوقی مناسب و معیاری.

۵- توزیع جواز وکالت دفاع به اشخاصی که شرایط مندرج قانون وکلای مدافع و این اساسنامه را تکمیل نموده باشند.

مدافع وکیلانو د مسلکي پوهې دکچې د لوړولو لپاره د کورسونو جوړول او د اغیزمنو پروګرامونوپلي کول.

۷- دمدافع وکیلانو دخپلواکتوب او دهغوی دصنفي ګټو ساتل او دفاع .

۸- د غړو لخوا د اخلاقي او مسلکي معیارونو په پام کې نیول او له موکلینو سره وړ چلند ته دهغو هڅول.

۹- دمسلکي حیثیت او وقار ساتلو، د مؤکلینو د باورجلبولو او له هر ډول اداري فساد سره د مبارزې په خاطر، دمدافع وکیلانو هڅول.

۱۰- متقا ضیانو ته په جزائي،مدني او تجارتي مو ضوع ګانوکې دحقوقي خدمتونو چمتو کول.

۱۱- دمدافع وکیلانو پر مسلکي فعالیت باندې څارنه .

۱۲- دمدافع وکیلانو د فعالیت سمون او دهغوی دحقوقو څخه ملاتړ او دفا ع.

۱۳- د قانون د احکامو مطابق بیوزلو مظنونینو او تورنو ته د وړیا حقوقي خدمتونو تأمینول.

۱۴- دمختلفو طریقو او وسایلو څخه په ګټې اخیستنې سره دعامه پوهاوي لپاره هڅه کول.

۱۵- د انجمن او نورو اړوندو کشفي، عدلي او قضایي مراجعو کې تر منځ ګډه کوشش کول.

## خپلواکتوب

**دریيمه ماده :**

دافغانستان دمدافع وکیلانو خپلواکه ټولنه، خپلواکه، غیر دولتي ، غیر سیاسي بنسټ دی، دمدافع وکیلانو دممثل په توګه ، داساسي قانون، دمدافع وکیلانو د قانون او نورو تقنیني سندونو دحکمونو سره سم،پدې اساسنامه کې د لیکل شویو موخو د پلي کیدو په لاره کې، فعالیت کوي.

٦ــ ایجاد کورس های آموزشی و تطبیق پروگرامهای مؤثر جهت ارتقای سطح دانش مسلکی وکلای مدافع با رعایت معیار های ملی و بین المللی.

۷ــ حفظ ودفاع از استقلالیت وکلای مدافع و منافع صنفی آنها.

۸ــ رعایت معیار های اخلاقی ومسلکی از طرف اعضا وتشویق آنها به رفتار مناسب با مؤکلین.

۹ ــ تشویق وکلای مدافع به خاطر حفظ حیثیت ووقار مسلکی ،جلب اعتماد مؤکلین ومبارزه با هر نوع فساد اداری.

۱۰ــ مساعد ساختن زمینۀ خدمات حقوقی برای متقاضیان در موضوعات جزایی، مدنی، و تجارتی .

۱۱ــ نظارت بر فعالیت مسلکی وکلای مدافع.

۱۲ــ انسجام فعالیت وکلای مدافع، حمایت و دفاع از حقوق آنها.

۱۳ــ تأمین خدمات حقوقی رایگان به مظنونین ومتهمین بی بضاعت مطابق احکام قانون.

۱۴. تلاش جهت ارائۀ آگاهی حقوقی عامه با استفاده از طرق و وسایل مختلف.

۱۵. تشریک مساعی میان انجمن و سایر مراجع کشفی عدلی و قضایی.

## استقلالیت

**مادۀ سوم:**

انجمن مستقل و کلای مدافع افغانستان نهاد مستقل ، غیر دولتی وغیر سیاسی بوده ، منحیث ممثل وکلای مدافع در راه تحقق اهداف مندرج این اساسنامه، مطابق احکام قانون اساسی ، قانون وکلای مدافع وسایر اسناد تقنینی فعالیت می نماید.

## دفعالیت مرکز

خلورمه مادهٔ :

دمدافع وکیلانو دخپلواکي ټولنې دفعالیت مرکز د کابل په ښارکې دی او د هغې نورې څانګې په نورو ولایتونو کـــې جوړیدلای شي.

## مرکز فعالیت

مادهٔ چهارم :

دفتر مرکزی انجمن مستقل وکلای مدافع درشهر کابـــل بوده ونمایندگی های آن در سایر ولایات ایجاد شده مـــی تواند.

## لنډ نوم

پنځمه ماده :

دمدافع وکیلانو ټولنه تر دې وروسته په دې اساسنامه کې د ټولنې په نوم یادیږي.

## نام اختصاری

مادهٔ پنجم :

انجمن مستقل وکلای مدافع من بعد در این اساسنامه به نام انجمن یاد می گردد.

# دو یم فصل

## تشکیل، دندې او واکونه

### تشکیل

شپږمه ماده:

ټولنه، د عمومي مجمع، رهبري شورى،اجرائیه پلاوي او د خارنې پلاوي او کمېټو لرونکې ده .

### عمومي مجمع

اوومه ماده :

عمومي مجمع، د ټولنې د تصمیم نیولو تر ټولو لوړه مرجع ده او د رهبري له شورى، اجرائیه پلاوي،د خارنې پلاوي، د ټاکنو او د ښوونو د کمیټو او غړو څخه جوړه ده.

### دعمومي مجمع واکونه

اتمه ماده:

عمومي مجمع د لاندې واکونو لرونکې ده:

۱– درهبري شورى، اجرائیوي آمر،د خارنې پلاوي او د غړو ټاکل او عزل.

۲– دټولنې دپالیسي اود فعالیت د بنسټیزو لوریو ټاکل اوتثبیتول .

۳– د مدافع وکیلانو د قانون د تعدیل وړاندیز.

۴– داساسنامې تصویب یا تعدیل.

۵– دټولنې کلنۍ رپوټ اوریدل

٦– د نورو تصمیمونو نیول.

### رهبري شورى

نهمه ماده:

(۱)د رهبرى شورى له عمومي مجمع وروسته ، د ټولنې تر ټولو واکمنه مرجع ده او د اجرائیه پلاوي په ګډون (۱۵) غړي لري.

# فصل دوم

## تشکیل ، وظایف وصلاحیت ها

### تشکیل

مادۀ ششم:

انجمن دارای مجمع عمومی ، شورای رهبری ، هیئت اجرائیه ، هیئت نظارت، و کمیته ها می باشد.

### مجمع عمومی

ماده هفتم :

مجمع عمومی عالی ترین مرجع تصمیم گیری انجمن بوده ومتشکل ازاعضای شورای رهبری ، هیئت اجرائیه ، هیئت نظارت ، کمیته های انتخابات و تعلیمات و اعضا می باشد.

### صلاحیت مجمع عمومی

مادۀ هشتم:

مجمع عمومی دارای صلاحیت های ذیل میباشد:

۱ ـ انتخاب وعزل اعضای شورای رهبری ، آمر اجرایوی، هیئت نظارت.

۲ ـ تعیین و تثبیت پالیسی و جهات اساسی فعالیت انجمن.

۳– پیشنهاد طرح تعدیل قانون وکلای مدافع .

۴ – تصویب یاتعدیل اساسنامه.

۵ – استماع گزارش سالانه فعالیت های انجمن.

٦ ـ اتخاذ سایر تصامیم.

### شورای رهبری

مادۀ نهم :

(۱) شورای رهبری بعد از مجمع عمومی عالی ترین مرجع ذی صلاح انجمن بوده و به شمول هیئت اجرائیه

(۲) د رهبري شورى د(۱۵) غړو له ډلي څخه لږ ترلږه د هغې درى تنه غړي د ښځينه مدافع وکيلانو له منځ څخه ټاکل کيږي.

(۳) هغه شخص درهبري شورى دغړي په توګـــه ټاکـــل کيداى شي چي دلاندې صفاتو او مشخصاتو لرونکي وى:

۱- يوازې د افغانستان د تابعيت لرونکى وي.

۲- د هېواد د ننه د حقوقو او شرعياتو له پوهنځيو او يا د هغه پورته له بهر څخه د لوړو تحصيلاتو د فراغت د سند لرونکو مدافع وکيلانو لپاره لږتر لږه د درې کلونو د کاري مسلکي تجربې لرل .

۳- د هيواد دننه د رسمي ديني مدارسو يا د هيواد د ننه ياله بهر څخه دهغه معادل دفراغت سند لروونکو مدافع وکيلانولپاره لږ ترلږه د پنځو کلونو د کاري مسلکي تجربې لرل.

۴- دنيک شهرت لرل.

دارای (۱۵) عضو می باشد .

(۲) از جملۀ ۱۵ عضو شورای رهبری حد اقل سه عضو آن از میان وکلای مدافع طبقۀ اناث انتخاب می گردند.

(۳) شخصی به صفت عضو شورای رهبری کاندید شده می تواند که دارای صفات و مشخصات ذیل باشد:

۱- تنها حامل تابعیت افغانستان باشد.

۲- داشتن تجربۀ کاری مسلکی حد اقل سه سال بـــرای وکلای مدافع حایز سند فراغت از پوهنخی های حقوق و علوم سیاسی یا شرعیات یا بالاتر از آن از داخل و یا خارج کشور.

۳- داشتن تجربۀ کاری مسلکی حد اقل پنج سال بـــرای وکلای مدافع حایز سند فراغت از مدارس دینی رســـمی کشور یا معادل آن از داخل و یا خارج کشور.

۴- داشتن شهرت نیک.

## درهبري شورى واکونه

لسمه ماده:

د رهبـــري شـــورى د لانـــدې دنـــدو او واکونـــو لرونکى دى:

۱- د بودجې دسازمان ورکولو، له تطبيق څارنـــه او د عمومي مجمع دتصميمونو ترسره کول.

۲- داجرائيه هيئت درپوټ اوريدل او ارزول .

۳- دپلان ،اداري تشکيل او د کلنۍ بودجې تصويبول .

۴- عمومي مجمع ته د رپوټ وړاندې کول .

۵- دټاکنو او ښوونو دکميټو د رئيسانو او غړو ټاکـــل او عزل.

٦- له نورو مماثلو ټولنو او دولتي ادارو سره، د ټـــولنې داړيکو دتنظيم په هکله دتصميم نيول .

۷- ددې اساسنامې د حکمونو سره سم ، د ټولنې د فوق العاده غونډو جوړول .

۸- د غړيتوب او دحق الامتياز د اندازې تصويب.

## صلاحیت های شورای رهبری

مادۀ دهم:

شورای رهبری دارای وظایف وصـــلاحیت هـــای ذیـــل می باشد:

۱ــ سازماندهی ،نظارت ازتطبیق بودجه و اجرای تصامیم مجمع عمومی.

۲ــ استماع و ارزیابی گزارش هیئت اجرائیه.

۳ــ تصویب پلان ، تشکیل اداری و بودجه سالانه.

۴ ــ ارائۀ گزارش به مجمع عمومی.

۵ ــ انتخاب و عزل روسا و اعضای کمیته های انتخابات و تعلیمات.

٦ــ اتخاذ تصمیم در مورد تنظیم روابط انجمن با ســـایر انجمن های مماثل و ادارات دولتی .

۷-برگزاری جلسات فوق العادۀ انجمن مطابق احکام این اساسنامه.

۸-تصویب اندازۀ حق العضویت و حق الامتیاز.

## اجرائیه پلاوی

یوولسمه ماده: ●

اجرائیه پلاوی د ټولنې یو فعال ارګان دي ، دټــولنې لــه عمومي رئیس مرستیالانو ، مالي مسؤول او اجرائیوی آمر چې د ټولنې ټولې اجرائیو ي چارې دمدافع وکیلانود قانون او دغې اساسنامې دحکمونوسره سم، رهبري او اداره کوي ، شخه جوړ دی .

## د اجرائیه پلاوي دندې او واکونه

دوولسمه ماده : ●

اجرائیه پلاوی د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی:

۱– دټولنې د چارو رهبري ، اداره او تنظیمول .

۲– دټولنې کاري پلانونو، پالیسي تطبیــق او د موخــو تامینول

۳– د بودجې پلې کول او دمالي لګښتونو څارل.

۴– د عمومي مجمع او رهبري شورې د تصمیمونو پلــې کول او تعمیلول.

۵– رهبري شورى ته د فعالیت د رپوټ ورکول.

## د څارنې پلاوی

د یارلسمه ماده : ●

(۱) د څارنې پلاوی له پنځو غړو څخه جوړ دی چــې د عمــومي مجمـــع لخـــوا د دوو کلونـــو لپـــاره ټاکل کېږي.

رئیس د غړو له منځه او پخپله د هغوي لخوا ټاکل کیږي.

(۲) د څارنې پلاوي د پنځو غړو له جملې څخه لږ ترلږه د هغه یو غړی د ښځینه مدافع وکیلانو له منځ څخه ټاکــل کېږي

## هیئت اجرائیه

مادۀ یازدهم:

هیئت اجرائیه ارگان دایماً فعال انجمن بوده مرکب است از رئیس عمومی انجمن، معاونـــان ، آمـــر اجرایـــوی، و مسؤول مالی که تمام امور اجرایوی انجمـــن را مطـــابق احکام قانون وکلای مدافع و این اساسنامه رهبری واداره می نمایند.

## وظایف وصلاحیت های هیئت اجرائیه

مادۀ دوازدهم:

هیئت اجرائیه دارای وظایف و صلاحیت های ذیل مــی باشد:

۱ــ رهبری اداره و تنظیم امور انجمن.

۲ــ تطبیق پلان های کاری ،پالیسی وتأمین اهداف انجمن.

۳– تطبیق بودجه و مراقبت از مصارف مالی.

۴ ــ تطبیق و تعمیل تصامیم مجمع عمـــومی وشـــورای رهبری.

۵– ارائـــۀ گـــزارش فعالیـــت بـــه شـــورای رهبـــری.

## هیئت نظارت

مادۀ سیزدهم:

(۱) هیئت نظارت متشکل از پنج عضومی باشـــد کـــه از طـــرف مجمـــع عمـــومی بـــرای دو ســـال انتخـــاب می شوند.

رئیس از میـــان اعضاءوتوســـط خـــود آنهـــا انتخـــاب می شود.

(۲) ازجملۀ پنج عضو هیت نظارت، حد اقل یک عضو آن از میان وکلای مدافع طبقۀ اناث انتخاب می گردد.

## د څارنې پلاوی دندې او واکونه

څوارلسمه ماده:

(۱) د څـــارنې پــــلاوی لانـــدې دنـــدې او واکونـــه لري:

۱- دعمومي مجمع او رهبري شورى د تصميمونو دپلـــي كيدو څخه څارنه.

۲- ددې اساسنامې د حكمونو د پلي كيدو او په پام كـــي نيولو څخه څارنه.

۳- د ټولنې د غړو د شكايتونو ته رسيدگي كول.

۴- دټولنې پرمالي چارو باندې څارنه.

۵- د متخلفو او سرغړونكو مدافع وكيلانوتاديبول

(۲) د څارنې د پلاوي كړنلاره دعمومي مجمع لخوا تصويبيږي.

## دټاكنو كميټه

پنځلسمه ماده:

(۱) دټاكنو د دايريدو څخه يوه مياشت مخكې دټـــا كنـــو د جوړيدو په موخه، دټاكنو كميټه چې د پنځوغړو څخه جوړه وي د رهبري شورى له خوا ټاكل كيږي.

(۲) د ټاكنو كميټې د پنځو غړو له ډلې څخه لږ تر لږه يوه غړې د ښځينه مدافع وكيلانو له منځ څخه ټاكل كيږي.

(۳) دټاكنو د كميټې رئيس دغړو له منځه ټاكل كېږي او په كميټې پورې اړونده چارې رهبري او تنظيموي.

(۴)د ټاكنو كميټه د سالمو ټاكنو د جوړيدو پــــه موخـــه كولاى شي ملي اونړيوال خپلواک كتوونكي راوبولي.

(۵)د ټاكنو كميټه د ټاكنو اړونده چارې د هغې كړنلارې سره سم چې د ټولنې لخوا وضع شوېدي تنظيموي.

(٦)د ټاكنو دكميټې كړنلاره د رهبـــري شـــورى لخـــوا تصويبيږي.

(۷)د ټاكنو كميټه د ټاكنو د پايته رسيدو له بهيـــر څخـــه وروسته منحل كېږي.

## وظايف و صلاحيت های هيئت نظارت

مادۀ چهاردهم:

(۱) هيئت نظارت دارای وظايف وصلاحيت هـــای ذيـــل می باشد:

۱ ـــ نظارت از تطبيق تصاميم مجمع عمـــومی وشـــورای رهبری .

۲ ـــ نظارت از تطبيق ورعايت احكام اين اساسنامه.

۳ ـــ رسيدگی به شكايات اعضای انجمن.

۴ ـــ نظارت بر امور مالی انجمن.

۵- تأديب وكلای مدافع متخلف و خاطی.

(۲) طرزالعمل هيئت نظارت از طرف مجمـــع عمـــومی تصويب می گردد.

## كميتۀ انتخابات

ماده پانزدهم:

(۱) به منظور بر گزاری انتخابات ، يک ماه قبل از تدوير انتخابات، كميتۀ انتخابات كه متشكل از پنج عضو مـــی باشد از طرف شورای رهبری انتخاب می گردد.

(۲) از جمله پنج عضو كميتۀ انتخابات، حد اقـــل يـــک عضو آن از ميان وكلای مدافع طبقـــه انـــاث انتخـــاب می گردد.

(۳) رئيس كميته انتخابات از ميان اعضا، انتخاب و امور مربوط به كميتۀ را رهبری و تنظيم می نمايد.

(۴) به منظوربرگزاری انتخابات سالم كميتۀ انتخابـــات می تواند ازناظرين مستقل ملی و بين المللی دعوت نمايد.

(۵) كميتۀ انتخابات امورمربوط به انتخابـــات را طبـــق طرزالعمل وضع شده از طرف انجمن تنظيم می نمايد.

(٦) طرزالعمل مربوط به كميتۀ انتخابات ازطرف شورای رهبری تصويب می گردد.

(۷) كميتۀ انتخابات بعد از اختتام پروسۀ انتخابات منحل می گردد.

## دښوونوکمیټه

**شپاړسمه ماده:**

**(۱) د زدکړو د چارو دتنظیم اود آزموینو داخیستلو په موخه،دښوونوکمیټه د پنځو غړو په ترکیب چې د هغه په سر کې بې د انجمن رئیس قرار لري د رهبري شوري لخوا د یو کال لپاره ټاکل کېږي:**

**(۲) د ښوونو کمیټه ،د عمومي ښوونو پروګرامونه تنظیموي او په کورسونوکې د شاملیدو شرطونه، د جلا کړنلارې سره سم، څرګندوي.**

**(۳) د ښوونو دکمیټې کړنلاره ، درهبري شوری لخوا تصویبېږي .**

## فرعي کمیټې

**اووه لسمه ماده :**

**رهبری شوري کولی شي ، د اړتیا په صورت کې فرعي کمیټې جوړې کړي.**

## کمیتۀ تعلیمات

**مادۀ شانزدهم:**

**(۱) به منظورتنظیم امور آموزش واخذ امتحانات، کمیتۀ یی مرکب از پنج عضو که در رأس آن رئیس انجمن قرار دارد از طرف شورای رهبری برای مدت یک سال انتخاب می گردد.**

**(۲)کمیتۀ تعلیمات پروگرام های تعلیمات عمومی راتنظیم وشرایط شمولیت به کورس هاراطبق طرز العمل جداگانه، مشخص میسازد.**

**(۳) طرزالعمل کمیتۀ تعلیمات از طرف شورای رهبری تصویب می گردد.**

## کمیته های فرعی

**ماده هفدهم:**

**شورای رهبری می تواند، درصورت ضرورت کمیته هایی فرعی را ایجاد نماید.**

# درېیم فصل

## دټولنې د اجرائیه پلاوي د ټاکل کیدو ډول، واک او دندې

### د ټولنې عمومي رئیس

اتلسمه ماده :

دټولنې عمومي رئیس دعمومي مجمع لخوا ، ددې اساسنامې سره سم،د دریوکلونو مودې لپاره ټاکل کیږي .

### د ټولنې د عمومي رئیس دندې او واکونه

نوولسمه ماده:

دټولنې رئیس د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی :

۱- دعمومي مجمع له کلنیو غونډو څخه ریاست.

۲- درهبرۍ دشورى او اجرا ئیه پلاوي له غونډو څخه ریاست .

۳- دښوونو کمیټې په غونډو کې ګډون .

۴- د کارکوونکو د تقرر او عزل منظورول.

۵- رهبرۍ شورى او عمومي مجمع ته دکلنې رپوټ وړاندې کول .

٦- د لزوم په صورت کې د رهبرۍ دشورى د فوق العاده غونډې رابلل.

### دټولنې مرستیال

شلمه ماده :

(۱) ټولنه دوه مرستیالان لري، چې ددې اساسنامې د حکمونوسره سم د دووکلونو مودې لپاره ، دعمومي مجمع لخوا ټاکل کیږي .

(۲) د دوو معاونینو له جملې څخه یو معاون د ښځینه مدافع وکیلانو له منځ څخه ټاکل کېږي.

(۳) درئیس په نه شتون کې، مرستیالان دهغهٔ دندې، د دې

# فصل سوم

## طرز انتخاب، صلاحیت ووظایف هیئت اجرائیهٔ انجمن

### رئیس عمومی انجمن

مادهٔ هژدهم :

رئیس عمومی انجمن از طرف مجمع عمومی مطابق این اساسنامه برای مدت سه سال انتخاب می گردد.

### وظایف وصلاحیت های رئیس عمومی انجمن

مادهٔ نزدهم:

رئیس انجمن دارای وظایف وصلاحیت های ذیل می باشد :

۱- ریاست از جلسات سالانه مجمع عمومی .

۲- ریاست از جلسات شورای رهبری وهیئت اجرائیه .

۳- اشتراک در جلسات کمیتهٔ تعلیمات.

